# ستر حمزه بابا د حسن تصورات

# The Imagination of Beauty of Great Hamza Baba

Tawab Shah Shinwari [1]

Beauty plays a vital role in poetry of any language of the world. Most of the poets address a numbers of aspects of beauty in their poetry i. e Subjective, Objective, Unity of beauty, Sublimity, reality of beauty. In Pashto poetry Hamza Baba has discussed all these aspects of beauty including the beauty and sublimity of Pakhtun as a nation. In this paper I have described this very aspect in his poetry.

د ستر حمزه بابا شخصیت د نظم او نثر دواړو په حوالې سره دومره جامع او ژور دے چې د هغې احاطه کول که د یو انسان دپاره نا ممکن نۀ وي نو مشکل به ضرور وي. او دا ځکه چې د هغه تخلیقات د ژوند دیوې مخصوصې شعبې او د ادب په یو خاص صنف باندې د لیک په ځائے د ژوند په بیله بیلو اړخونو ، شعبو، رنګونو او موضوعاتو باندې اړتیالري.

حمزه بابا د شلمې صدۍ یو نومورے شاعر یو ستر فلسفي، یو باعمله صوفي او یو دروند پښتون تر څنګ د جمالیات یو نومورے عالم هم وو. دهغه د حسن په فلسفه کښې داواړه رنګونه او اړخونه واضحه او جوت اثرات لرې. حسن او جمال د هغه دتخلیقاتو یوه مهمه موضوع ده. هغه نۀ یواځې د جمالیاتو "Aesthetiсism" په فلسفه پوهېدو او په مختلفو اصنافو (نثر او نظم) کښې ئې پرې. ګټور لیکونه کړي دي بلکې هغه د نړۍ د جمالیاتو د فلفسې په سترو عالمانو او فلسفیانو باندې د رد او قبول نیوکې او ستائنې هم کړې دي.

حمزه بابا په حقیقي معنو کښې لوے شاعر ؤ هغه د لفظونو جادوګر وو. او دا خو د شاعرانو خاصیت دے چې هغوي حسن خوښوي، تل د حسن په لټون کښې وي او ځکه دهر ښکلې څیز په ستائلو کښې تر هر چا وړاندې وي.

1 Lecturer in GPGC Landi Kotal Dist Khyber

حمزه بابا نۀ يوائحې د حسن بلکې د حسن کل نه هم واقف وۀ. هغه په حسن کل باندې شيدا وۀ. نو ځکه هغه د کائنات په هر څيز کښې د حسن لټون کولو.وجود په کُلي لحاظ سره يو حسين او جميل صورت دے ځکه خو حضورپاکﷺ هم په يو حديث کښې فرمائيلی دي.

" اَللّٰهُ جَمِيْلُ وَ يُحِبُّ الْجَمَال "ـ۱

ترجمه :- ” اللّٰه حسين دے او حسن خوښوي“ ځکه هم د دې حسين صورت جمال په وير کائنات کښې وېشلے شوے دے. او د دنيا واړه څيزونه هم د دې حسن او جمال ښکلي صورتونه او هم د دې کمالاتو عکسونه، مظاهر او سوري دي. ځکه ستر حمزه بابا هم د وجودي مسلک د حسن او ښکلا دغه اړخ په لاندېنې اشعارو کښې څۀ په دا رنګ بيانوي.

حسن خو دې يو خو په بار بار چې مېښرېم
زه د خپل وجود خوارۀ اجزاء راټولوم ـ۲

حسن هغه يو دې که په هر محفل کښې ښکاري
ځان چې غورځوي په هره شمع پروانه ـ۳

ستا يوه ادا خوپه هر چا کښې ښکاره کېږي
حسن دې وېشلے دے په ټولو خو کم نۀ شو ـ۴

خپل جمال ته پکښې ځير ئې رنګ په رنګ په کښې بدلېږې
خو هم تۀ ئې نور څۀ نشته کائنات په آئينه کښې ـ۵

د زياتره مسلمانانو متصوفينو زياتره دا تحقيق دے چې په دنيا کښې حقيقتاً حسن حسن دے، بدرنګي، ذشتي او برائي يا بدي چرته هم نشته او که چرې په دې باندې د بدۍ يا برائۍ حکم ولګولې شي نو دا به اعتباري وي يعنې هېڅ يو څيز ځائي يا په فطري توګه بد نۀ وي. مطلب داچې خېر کل وي د شر په کښې ېخي بوئي هم نۀ وي. بابا په خپلو اشعارو کښي د دې حقيقت څرګندونه څۀ په دا رنګ کوي.

په خپل حسن کښې محوه بدرنګې محسوسوي
قدرت خو بس جميل دے او جمال پيدا کوي ـ۶

نشته حقيقت کښې تيرې نشته دے
ګوره دهر تن نه بهر سوري دي ـ۷

ستر او نومورې ليکوال شيکسپئير په خپله يوه معقوله کښې د صوفياو بره ذکر شوو احوالو ته څۀ په دې ډول اشاره کوي لکه چې وائي

“Nothing is good or bad thinking makes it so”

ترجمه :- يعنٰي هيڅ يو څيز پخپله ښۀ يا بد نۀ وي. دانسان سوچ د هغۀ نه ښۀ يا بد سازوي.خو ولي د صوفياو احوال او اقوال د دې نه ډير بره، اعلٰى او بالا وي. ځکه چې هغوي د خير کل قائله وي. لکه چې حمزه بابا په لانديني شعر کښې وائي.

په نظر نظر کښې فرق دے نور څۀ نشته
په دنيا کښې هر يو څيز لري زيبا مخ ـ۸

هم دغه فرق خو د لطيف او کثيف شيانو په وجه وي او کوم خلق چې دحسن او جمال نه بې برخې وي نو د هغوي زړونه خو د کثيف لوښو په شان وي. لکه چې حضرت بابا ورته په خپل يو شعر کښې داسې اشاره کوي.

ځکه شډل زړونه له حسنه څۀ بهره نۀ مومي
په کثيف څيز چرې کيدې نۀ شي اظهار درڼا ـ۹

حمزه بابا د جمال په تکل کښې ډير لرې لاړ دے. ډيرې کندې کپرې او ډيرې سختې مرحلې ئې تر سره کړې دي. ځکه هغه په خپل يو ليک کښې دا حقيقت داسې بيانوي؛

"سوال دا دې چې د حسن مشاهده کونکې څوک دے ځکه چې هر مشاهده کونکې د خپل بنيادي فطرت او د "عين" د غوښتنې سره سم د حسن معيار ټا کي

او دهغه ننداري نه خوند اخلي خو يو بل فرد داسې هم شته چې هغه د مطلق حسن پيکر دې چې مونږ ورته انسان وايو.

انسان د کائنات د هر فرد نه زيات ښکلے دے. قرآن پاک هم دې ته اشاره کوي او وائي. وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ "ما ستا سو صورتونه جوړ کړي دي اور ډېر ښکلي مې جوړ کړي دي". ځکه چې انسان د مطلق حيات او مطلق حسن يو داسې مظهر دے چې د سائنس پوهان وائي چې کائنات چې د کومو عناصرو نه مرکب دے هغه واړه د انسان په وجود کښې په يوه خاصه اندازه موجود دي. ځکه خو انسان د نړۍ منتظم دے. يعنٰی په انسان کښې دباغونو، چمنونو، دشتونو، بيابانونو، کندو او نورو عامو حيواناتو او دهر څۀ ښکلا موجوده ده".۔ے۱۰

په قول د پروفيسر ډاکټر راج ولی شاه صاحب "چې ما يوه ورځ د حمزه بابا نه پوښتنه وکړه چې تا سو يو ډېر لوې عالم، فاضل، صوفی او فلسفي يا ئي نو تاسو ته په کوم څيز کښې د ټولو نه زيات حسن ښکاري. نو د بابا ځواب دا ؤ چې ما ته د ټولو نه زياته ښکلا په خپل ځان کښې ښکاري"۔ے۱۱

ځکه خو بابا په خپل کتاب "انساني انا او پوهه" کښې انساني انا او ښکلا سرخط لاندې په دې بابله ليکي چې؛

"انسان کښې د ذوق جمال موجودګي دا خبره ثابتوي چې هم دغه خپل ذاتي فطری حسن صرف په يوه معروضي آئينه کښې ليدلې کېدې شي او لا به انسانی انا پخپله له خپل ځان نه معروضي آئينه جوړوي او په هغې کښې به دخپل حسن مشاهده کوي.

هر انسان د خپل تصور په طاقت دځان نه دوه (۲) جوړولې شي او خپل تمثال ځان ته مخامخ ودرولې شي. خو د هغه تمثال په آئينه کښې خپل حسن ليدل د هر چا نۀ بلکې د يو مجاهد انسان کار دے".۔ے۱۲

د ذکر شوي حقیقت څرګندونه په ښکلې جوړ د بابا لاندېني شعرونو نه په آسانه کېدلې شي لکه چې هغه وائي.

آئینه د خپل جمال مې مخ ته ونیوه حېران شوم
دا خو ما رڼا کوله د اشنا په اننګو کښې ۱۳ـ

څۀ کړمه حمزه خپله ښکلا راته بلاشوه
ځکه مې نظر د انتخاب نۀ پیدا کېږي ۱۴ـ

د خپل جمال شمع زما په زړه کښې بلا شوله
چې مې له خیاله دپې مخیو انجمن وواتو ۱۵ـ

د دنیا د بېله بېلو جمالیاتی مفکرینو د نظریاتو اور تصوراتو تر څنګ ستر حمز بابا حسن د تصور په ترڅ کښې خپل ځانګړي نظریات اور تصورات هم لري. لکه چې د هغه دا نظر دے چې په بد رنګۍ یا ګمکیتوب کښې هم یو جمال پټ وي چې اصطلاحاً ورته ملاحت وئلې شي. بابا ورته د حسن راز هم وائي.

راز د ښکلا پټ په ملاحت کښې دے
نۀ په شونډو، زلفو، ښو، وروځو په قامت کښې دے ۱۶ـ

دې ترڅنګ بابا په قبح یا بدرنګۍ کښې د ښکلا ښځي یو نوې تصور وړاندې کړې دے. یعنٰی د آواز د ښکلا تصور لکه چې هغه په خپل دې شعر کښې وائي.

چا وئېل چې په قبیح کښې ښکلا نۀ وي
که هغه په مخ بدرنګ ؤ شکر غږ ؤ ۱۷ـ

تر څو پورې چې د بشري ښکلا تعلق دے نو په عالم بشر کښې د انسانی حسن او جمال څۀ متفقه معیار نۀ دے ټاکلې شوې. د مثال په ډول د اېشیا خلق د محبوب اوږ دې او تورې زلفې، تورې سترګې وغېره خوښوي او دې ته حسن وائي او مني ئې هم. د یورپ خلق شنې سترګې او سرې

ګلګونې زلفې ستائي. د دې برعکس د افريقې حبشيانو په خيال د محبوب ګهنګرياله يا تاوکړې زلفې، غټې پوزې او غټې لوې شونډې د حسن او خوبۍ معيار دے. نودې نه دا مطلب صفا راوځي چې د حسن په ذوق او معيار باندې د دنيا په يو ګوټ کښې هم اتفاق نشته ځکه چې د نوع بشر په جمالياتی ذوق کښې توپير د رسم و رواج، تهذيب و تمدن، مذهب، ماحول، تعليم او تربيت او د جغرافيائي بريدونو له وجهې وي.

تر څو پورې چې د حسن د تعريف او توصيف تعلق دے نو په دې اړه د دنيا د بېلا بېلو جمالياتي مفکرينوبې شماره رائې او نظريات دي. په يقيني ډول مونږ د حسن يو داسې معيار نه شو قائمولے کوم چې د هر ملک، علاقې او دهرې زمانې خلقو د پاره د قبوليت مقام حاصل کړي. ولې چې د دنيا د هر وګړي جمالياتی ذوق او د هغې معيار د بل نه جدا او ځانګړې حيثيت لري ځکه د محترم والتر پېټر خيال ښاغلی رياض الحسن په خپل کتاب کښې داسې وړاندې کړې دے.

ترجمه: د حسن جامع تعريف ممکن نۀ دے ځکه چې دا ديو ځانګړي کېفيت نوم دے چې عام قياس پرې نۀ شي کېدے" ـ۱۸

څوک حسن ته دحقيقت نوم ورکوي يعنٰی ازلی ئې ګڼي. څوک ئې د څيزونو صفت ګڼي يعنٰی په معروضاتو کښې دحسن اوښکلا قائل دي. څوک ژوند ته حسن وائي، څوک حسن د ذهن، خيال يا تخيل داخلي احساس بولي يعنٰی موضوعي ئې ګڼي.څوک اظهار ته حسن وائي.څوک د موضوعي او د معروضي په خپلو کښې ګډون او امتزاج حسن بولي، ځينې ارزوګانې تسکين ته حسن وائي، ځنې نور مسرت ته حسن ګڼي. خو زياتره جمالياتی مفکرين يوشانوالي، تناسب، اعتدال او موزونيت ته حسن وائي. د حسن دا تعريف د ټولو نه زيات مشهور په زړۀ پورې او غوره تعريف دے. بابا هم د حسن د دې نظرېې پلوي دے لکه چې هغه په خپل دې شعر کښې د دې خيال په دا رنګ څرګندونه کوي.

مړې غټې تورې سترګې لوې بانۀ درازې وروځې
بس داسې يو پيکر چې وي زيبا ګڼلې کېږي ـ۱۹

دې نه علاوه هم ستر حمزه بابا د حسن او ښکلا په باره کښې د مختلفو خيالاتو اظهار کړې دے. سوب ئې دا دې چې د هغه زياتره جمالياتی افکار د نظم يا شعر په هيت کښې وړاندې کړي دي. او په نظم کښې منطقی ترتيب په ځائے ساتل ممکنه خبره نۀ ده. ځکه دلته دهغه د حسن د توصيف په لړ کښې مختلف خوارۀ وارۀ شعري افکار وړاندې کولې شي. لکه چې په لاندېنی شعر کښې هغه ژوند ته ښکلا وائي او ښکلا ته ژوند وائي دې نه بغېر نورې واړه خبرې او قيصې عبث ګرځوي.

ښکلا بې ژونده، ژوندبې ښکلا نه
عبث خبرې خوشې قيصې دي ۲۰

په يوه بلا موقع هم هغه ښکلا ته ژوند وائي

حمزه ستا په ښکلا چې دا د ژوند بله نامه ده
بې دې نه بل تعريف ډېرې خبرې ډېرې خولې دي ۲۱

په لاندېني شعر کښې بابا دښکلا راز په ملاحت کښې پټ ګڼي لکه چې وائي؛

راز چې دښکلا دې هغه پټ په ملاحت کښې دے
نۀ په شونډو، زلفو، ښو، وروځو په قامت کښې دے ۲۲

دغه رنګ په لاندېنی شعر کښې هغه حسن ته غېر وائي يعنې معروضي يا خارجي ئې بولي لکه چې وائي.

حسن غېر دې چې پرې ښکلي خوشحالېږي
آئينه کښې چې مخ وويني مسکے شي ۲۳

په معاشرتي لحاظ سره چې بابا د حسن کوم معيار ټاکي او د حسن او ښکلا چې کوم تعريف او توصيف کوي نو دا په يقيني ډول د کلهمې ړرې د جمالياتي مفکرينو د حسن تعريفونو نه جدا او ځانګړې انداز دے. يعنې پښتني حسن لکه چې هغه وائي.

زه برندې سترګې او شډله ځواني حسن ګڼم
نۀ نرۍ ملا لکه ویښتۀ نۀ ټیټې مړې سترګې ۲۴؎

په دې دنیا کښې چې الله تعالیٰ څۀ هم پیدا کړي دي نو په هغې کښې حسن او ښکلا موجوده ده. کلام پاک نه د دې حقیقت اظهار څۀ په د رنګ کېږي.

اَلَذی اَحسَنَ کُلِ شَی ءٍ خَلَقَه : ۲۵؎

ترجمه: الله چې څۀ هم پیدا کړي دي ښائسته ئې پیدا کړي دي.

دېره آیت نه دا حقیقت په ډاګه کېږي چې په دنیا کښې بس حسن حسن دے. لکه په افق کښې په شفق کښې د ګلونو په رنګونو او خوشبویو کښې د سیندونو په روانۍ کښې د سمندر په اوبو کښې د سپوږمۍ په رڼا کښې د ستورو په پړکا کښې هره خوا حسن حسن او ښکلا خوره ده. په حقیقت کښې دا واړه اسمونه او صفات د الله تعالیٰ د جمال او دهغه د جلال ځښې ځښناڼې او خوش رنګه مظاهر دي لکه چې بابا وائي؛

چې فنا هره لحظه وي باقي ښکاري
د جمال، جلال مظهره دانړۍ ده ۲۶؎

وړاندې ددې نه هم مونږ د دې خبرې ذکر کړې دے چې حمزه بابا یو کامیاب شاعر او عملي صوفي ترځنګ یو منلې شوې فلسفي هم دے. هغه د جمالیاتو د فلسفې د بېلا بېلو مفکرینو او د هغوي د نظریاتو او تصوراتو غرقه او ژوره مطالعه لري. هم دغه سوب دې چې د هغه په تخلیقاتو کښې د حسن او جمال تصور مختلف اړخونه او رنګونه په نظر رائحي.

لکه د حسن په باره کښې دوه (۲) نظرېې ډېر شهرت لري. یوې ته د حسن معروضی یا خارجي نظریه وئیلے شي او بلې ته دحسن معضوعي یا داخلي نظریه وائي.

۱
د حسن د معروضي یا خارجي نظرېې پلویانو خیال دے چې حسن یو خارجي حقیقت دے. یعنې دا دڅیزونو ذاتي صفت دے. دا د اعتدال، تناسب، هم آهنګۍ او د موزونیت نتیجه ئې بولي. د حسن د خارجي نظرېې منونکي دا دلیل وړاندې کوي چې ګل د خپل خارجي حقیقت له رویه

ښکلې دے. ځکه ئې هر څوک خوښوي که چرې د حسن اظهار په موضوعیت یا داخلیت باندې وې نو ګل به دچا دپاره ښکلے او چا د پاره بد او بدرنګه ؤ. د حسن د بېلابېلو نظریو د اظهار په ترڅ کښې حمزه بابا په خپله شاعرئ کښې د حسن د معروضي یا خارجي نظرېې اظهار هم په ډېر سپېځلي جوړ په جمالیاتی انداز کښې کړې دے. د ثبوت په توګه دلته د بابا د شاعرئ ځینې هغه اشعار وړاندې کولے شي کوم نه چې دحسن معروضي نظرېې اظهار کېږی.

کړلېچونه هم دحسن ترجمان وي
چې دښکلیو د اوربل لارې کړې دي ـ۲۷

په پرېشانئ کښې هم ښکلا وي پټه
تۀ خو په ګل کښې زړۀ راښکون وګوره ـ۲۸

انګیره ئې د اشنا د تبسم نه
خوپه چا کښې چې خپل اور وۀ اور پرې بل شو ـ۲۹

حمزه جُز د هوس دې چې خبر دې کړم له رشکه
ښائېست خو داسې څیز دې چې ښکاره شو د هرچاشو ـ۳۰

زور د ښکلا ؤ چې اوربل دې الول پرېښود
که په سنګار کښې آئینې درته خلل پرېښود ـ۳۱

دحسن د داخلي یا موضوعي نظرېې منونکي وائي چې د حسن په حقیقت کښې د انسان د ذهن، خیال او د تخیل پیداوار دے یعنی د دې اړتیا په انساني مشاهده باندې ده.دلیل دا وړاندې کوي چې که چرې یو شے په خارج کښې ښکلے وې نو یو څیز چې یو تن ښۀ خوښولې نو هغه به بیا ټولې دنیا ښۀ خوښولې. هم د دې ناممکن صورت حال سوب دې چې یو کس یو شے خوښوي او بل ته په کښې حسن نۀ ښکاري.

حمزه بابا د حسن په تصور کښې د حسن موضوعي اړخ هم ښهٔ ځلانده او روښانه دې. او هغه په ډېر ښکلي جوړ د موضوعي جمالياتو متعلق هم دځپلو زرينو خيالاتو اظهار کړې دے. لاندېنې شعرونه دهغه د موضوعي اړخ ښکلے نمائندګي کوي.

ما د شډلې ښکلا هلته لطافت کړلو حس
چې مې الفت د لطافت ځنې شډل وګرځېد ۳۲ے

کيف د حسن څهٔ درته بيان کړمه همدمه
هېڅ وئيلے نه شم که پوهېږم نهٔ پوهېږم ۳۳ے

ثاني مې نشته زه خالق د حسن و عشق يمه
زما نظر دې چې عابد او هم صنم زېږ وي ۳۴ے

عفوه بويه پرېشان د اشتياق وم
ما د بل په تېر کښې ښکل کړې زلفې ستا ۳۵ے

چې مې خوښې وې پرېشانې وس پرېشان يم
ما عادي د تغافل کړې زلفې ستا ۳۶ے

بيا مې د زلفانو بلا واخسته
دومره وم پرېشانه چې بيا تيروتم ۳۷ے

د ذکر شوو دواړه نظريو کښې شمېر پلويان دې. د هرې نظرېې پلوي خپله نظريه صحيح ثابتولو په لړکښې کښې شمېر مثالونه او دليلونه وړاندې کوي خو حقيقت دا دې. چې نهٔ ځانله د حسن معروضي نظريه او نهٔ د حسن موضوعي نظريه په بشپړه توګه د حسن د پوره او صحيح نظرېې عکاسي کوي. يعنې په ځانګړې توګه د حسن دواړه نظرېې ځينې نيمګړتياوې لري.

د حسن د معروضي اور موضوعي نظريو ترڅنګ يوه بله نظريه هم خپل پلويان لري. د دوي خيال دې چې د حسن د ظهور اورتخليق په لړ کښې د معروض او د موضوع ترمېنځه امتزاج او ګډون پکار دے.

هر کله چې د معروض اور موضوع خپلو کښې مناسبه ګډون وشي نو د حسن بشپړتيا ترې هله ظاهرېږي. جمالياتی مفکرين د حسن دغه نظريې ته امتزاجي يا په نوره ټکو کښې د جمال د وحدت نظريه وائي.

ګڼو جمالياتی مفکرينو تر څنګ قرآن پاک هم د حسن و وحدت نظريې تصديق کوي او صحيح ئې ثابتوي ښاغلے نصير احمد ناصر د جمال د وحدت نظريې په بابله په خپل کتاب کښې ليکي چې

> ترجمه :-"تر څو پورې چې د حسن موضوعي او معروضي کېدو تعلق دے. او دې دواړه نظريو ته يو تربله جدا اوبې تعلقۍ په نظر وکورې نو دا ناقصه او نيمګړې په نظر راځي ځکه چې په دې کښې هره يوه نظريه دحسن د حقيقت صرف د يو اړخ عکاسي کوي. خو که دواړه نظر يو خپلو کښې مناسبه ګډون وکړې شي نو د دې د وحدت نه د حقيقت دواړه اړخونه مخې ته راځي او ورسره به په دې کښې بشپړتيا پيدا شي. دا د موضوعيت او معروضيت نظريه د حسن د موضوعي او معروضي دواړه اړخونو باندې اړتيا له سوبه د وحدت عکاسي کوي ځکه دې ته د جمال وحدت نظريه وئيلے شي".

حمزه بابا د پخې عقيدې کامله مسلمان او يو با عمله صوفي وۀ. د قرآن پاک تعليماتو نه نۀ يوائې خبر وو بلکې دهغې په احکاماتو ئې پخه عقيده او کلک يقين ترڅنګ عمل هم کولو. هر کله چې د جمال د وحدت نظريې پخلې د کلام پاک نه هم کېږي نوځکه د حمزه بابا په شاعرۍ کښې د جمال د وحدت د اثبات په لړ کښې ګڼې او کټورې نمونې په نظر راځي. دلته ترې ځنې شعرونه د مثال په ډول وړاندې کولې شي.

څو چې مينه رنګ د حسن وانخلي
هومره د دې دوارو ملاقات غلط ۳۸ے

فرق د زرۀ او سترګو د جدا جدا ادراک دے
او ګنی جلوه دې هم دننه هم بهر ده ۳۹؎

حسنه چې هر څیز کښې هویدا نۀ شې
بیا خو به اے شوخه دهیڅا نۀ شې ۴۰؎

بس د ښکلا نه په ښکلا پریوځې
چې ستا په لاره ګام په ګام اخلم ۴۱؎

چې د ازل او د ابد په عنیت پوهه شوم
څکه تمیز مې چې د ازل او د ابد پرېښود ۴۲؎

د حسن یو بل قسم چې د جلال په نوم یادېږی د دې ذکر د ټولو نه اول نامتو جمالیاتی عالِم لون جائنس (Longinus) کوم چې درېمې صدئ میلادی سره سمون خوري. په خپل کتاب جلیل یعنې "On the Sublim" کښې کړې دے.

لون جائنس یوائې جلال حسن ګڼي او زیاتوي "چې دا کائنات څکه ښکلے دے چې دا د جلیلو نظارو نه ډک دے. او انسان ته یوائې دا د جلیلو نظارو په لور د فکر او نظر دعوت ورکوي".

ښاغلے نصیراحمد په خپل کتاب کښې د جمال او جلال وضاحت په اړه لیکي.

ترجمه :- "جمال او جلال د حسن دوه مظاهر دي په دې کښې رومبی یعنې جمال د رحمت، لطافت، معصومۍ او نزاکت ته وئیلے شي او دوېم یعنې جلال قوت، طاقت، قهاري او د جبارۍ مظهر دے". ۴۳؎

په یوه بلا موقع ښاغلے نصیر احمد ناصر د جمال او جلال په بابله د قرآن پاک نظر څۀ دا رنګ وړاندې کوي.

"د قرآن په رو سره جمال او جلال د حسن دوه صفتونه دي. د جمال خاصیت رحمت او نزاکت دے او د جلال خصوصیت قوت او جبروت دے". ۴۴؎

د ستر حمزه بابا په شاعرۍ کښې د جمال په مقابله کښې د جلال رنګونه د مقدار په لحاظ سره ډېر کم دي خو چې څۀ هم دي هغې نه د جلال نظرېې اظهار په ښکلي جوړ مخې ته راځي. لاندېني شعرونه د هغه د جلال نظرېې نمائده شعرونه دي.

دا حقيقت دے چې يار جميل ښۀ دے
بيا پرې دپاسه جميل جليل ښۀ دے ۴۵ے

په يوه بله موقع هغه د جلال په بابله په خپل يو شعر کښې وائی.

شوه معلومه دوه نومونه ديو څيزوو
چې غصه شوې ستا جمال همه جلال شو ۴۶ے

ننداره مې په جلال کښې د جمال که
چې ځپلي دي هر څوک جلال زما ۴۷ے

ګوره جلالت د يار زما په مخ
ګوره تماشه د تماشه په مخ ۴۸ے

ډېر چې څومره ښکلي جمالي شي جلالي شي
ډېر چې جلالي شي کله کله جمالي شي ۴۹ے

د حمزه بابا د حسن تصور يو بل منفرد او ځانګړې اړخ او انداز هم لري. يعنې خپل ثقافتي او معاشرتي پښتنی اړخ. د بابا د حسن په دې ځانګړي تصور کښې د پښتون جمالي او جلالي انداز ښودنه څۀ په دا رنګ کوی.

زه برندې سترګې اور شډله ځوانی حسن ګڼم
نه نرۍ ملا لکه ويښتۀ نۀ ټيټې مړې سترګې ۵۰ے

شډل دې اندازونه کړه ساده ساده ګل
دا چا وئېل چې خوي دپښتنو مۀ زده کوه ـ۴۷

اشنا که په ښکلا کښې دې غرور دے د مغل
الفت سره وقار ئې د پښتون راکړے دے

حسن که غرور لري وقار د مينې هم شته
ستا په تندي ګونجې زما ګونجې په شمله کښې

ځلاند دوه ارخونه دي زما او کامرانۍ
غېرت چې مسلمان دے او جذبه مې پښتنه ده

حمزه بابا په خصوصي توګه د پښتنې پيغلې د حيا، شرم، عزت، غېرت او پت چې کوم ځانګړې تصوير او تصور وړاندې کړې دے. په حقيقي لحاظ سره دا د جمالياتو په تاريخ کښې بېخي د يو نوې باب پرانسته کوي. بابا د پښتنې پيغلې د حيا او عزت جمالي اړخ ترځنګ د هغوي د جلالي شان ښودنې په دې کښې نوره هم ځلا او ځانګړتيا پيدا کړې ده. لانديني شعرونه په دې بابله غوره نمونې دي.

زه په پښتني شمله به ولې غره نۀ يم
هغه سروې قده چې په خپل حسن غرور که ـ۵۲

که خوله نۀ راکوې هغه ادا وکړه
له حيا کېده لاسونه بيا په مخ ـ۵۳

د پښتنو ښو د پاره اشنا
ما دې د سترګو انتخاب وکړو ـ۵۴

څومره زيرکي په سادګۍ کښې هم د حسن ده
ته چې په محفل کښې په پرادو سترګو را وګورې ۵۵

زه په هغه پښتنې حسن مئين يم
چې هوسۍ وي خو کاتهٔ ئې د زمري وي ۵۶

مهٔ ټيټوه سترګې خپل شډل دې ساته حسن
ښکليه درته خوي د پښتانهٔ کول پکار دي ۵۷

د حسن او جمال په بابله د ستر حمزه بابا تصورات او تفکرات په يوه وړه شان مقاله کښې ځايول ناشونې شان خبره ده ـ ځکه ما هم د مشت ازخروار په مصداق د بابا د مجموعي کلام د ډېرې لږې برخې د لوستې نه متعلقه موضوع په بابله د هغه ځينې تصورات تاسو سره شريک کړل. په اخر کښې زه خپل ليک دستر روحانی بابا په دې معنٰی خېز شعر سره رانغاړم لکه چې وائي؛

پوهښتې دې کېفيت د ښکلا هېڅ وئيلے نهٔ شم
کوم څيز چې ډېر ظاهر وي نو تفسير ئې لا مشکل شی ۵۸

## ماخذونه


۱: محمد بن عبدالله المتوفي، مشکواة شريف، عبدالله بن مسعود، مخ ۴۳۳
۲: د حمزه شنواري ديوان غزلې، سريزه او زيار اصف صميم ، يونيورستي بک ايجنسي پېښور ، دوېم ځل چاپ ، کال ۲۰۱۳ء ، مخ ۱۶۷
۳: د حمزه بابا ديوان ، مخ ۳۳۵
۴: همدغه اثر ، مخ ۲۱۵
۵: همدغه اثر ، مخ ۵۲۱
۶: د حمزه بابا کليات، دويم جلد،ډائريکټر پښتو اکېډيمي پېښور يونيورستي ۱۹۹۳ء ، مخ ۴۲۱
۷: د حمزه بابا ديوان ، مخ ۳۹۱
۸: د حمزه بابا، سپرلے په آئينه کښې، مخ ۲۰۲
۹: د حمزه بابا ديوان ، مخ ۹۷

۱۰: حمزه شنواری، انسانی انا او پوهه، جدون پرنټنګ پرېس پېښور ، ۲۰۰٤ء مخ ۴۰
۱۱: مخ په مخ، پروفیسر ډاکټر راج ولی شاه خټک دفتر، پښتو څانګه پیښور پوهتون، کال، ۲۰۱۰
۱۲: حمزه شنواری، انسانی انا او پوهه، مخ ۷۰
۱۳: د حمزه بابا دیوان ، مخ ۵۰۹
۱۴: همدغه اثر ، مخ ۴۲۴
۱۵: د حمزه بابا کلیات، اول جلد، ډائریکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ۱۹۹۳ء ، مخ ۵۵۸
۱۶: د حمزه بابا کلیات، دریم جلد، ډائریکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ۱۹۹٤ء ، مخ ۵۰۱
۱۷: د حمزه بابا کلیات، دویم جلد، مخ ۳۱۵
۱۸: ریاض الحسن، فلسفه حسن، هندوستان اکیډمي یو پي، چاپ کال ۱۹۳۵، مخ ۰۲
۱۹: د حمزه بابا کلیات، دویم جلد، مخ ۴۹۹
۲۰: د حمزه شنواری کلیات، دریم جلد، مخ ۲۸۱
۲۱: همدغه اثر ، مخ ۲۵۶
۲۲: همدغه اثر ، مخ ۵۰۱
۲۳: د حمزه شنواري دیوان ، غزلې ، مخ ٤۵۲
۲۴: د حمزه بابا دیوان ، غزلې، مخ ۵۲۶
۲۵: قرآن کریم، سورت السجده، آیت ۳۲، ۷ تا ۹
۲۶: د حمزه شنواری کلیات، دریم جلد، مخ ۳۱۲
۲۷: د حمزه شنواري دیوان ، مخ ۳۹۶
۲۸: د حمزه شنواري کلیات دوېم جلد ، ډائریکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ۱۹۹۳ء ، مخ ٤۳۲
۲۹: د حمزه بابا دیوان ، مخ ۲۰۶
۳۰: همدغه اثر ، مخ ۲۰۰
۳۱: همدغه اثر ، مخ ۱۱۳
۳۲: همدغه اثر ، مخ ۱۱۳
۳۳: همدغه اثر ، مخ ۱۵۳
۳۴: همدغه اثر ، مخ ٤٦۱
۳۵: د حمزه شنواری دیوان، غزلې، مخ ۸۴
۳۶: هم دغه اثر، مخ ۸۴
۳۷: هم دغه اثر، مخ ۱۳۷

۳۸: د حمزه بابا دیوان، مخ ۱۲۸
۳۹: هم دغه اثر، مخ ۲۵۰
۴۰: کلیات حمزه شنواری، دریم جلد، مخ ۱۷۷
۴۱: د حمزه بابا دیوان، غزلې، مخ ۱۵۸
۴۲: همدغه اثر ، مخ ۱٤۲
۴۳: نصیر احمد ناصر، اقبال اور جمالیات، اقبال اکیډیمي کراچي پاکستان ، اشاعت اول ۱۹٦٤ء ، مخ ۱۸۲
۴۴: همدغه اثر، مخ ۱۶۵
۴۵: د حمزه بابا دیوان، مخ ۵۷۹
۴۶: د حمزه شنواری کلیات، دریم جلد، مخ ۲۶۱
۴۷: همدغه اثر ، مخ ۵۱۶
۴۸: همدغه اثر ، مخ ۱۳۷
۴۹: کلیات حمزه شنواری، اول جلد، مخ ۳۵۶
۵۰: د حمزه شنواری کلیات، دویم جلد، مخ ۲۳۳
۵۱: د حمزه بابا دیوان، مخ ۳۵۷
۵۲: همدغه اثر ، مخ ۸۷
۵۳: همدغه اثر ، مخ ۱۰۹
۵۴: د حمزه شنواری کلیات، دریم جلد، مخ ۳۴۱
۵۵: د حمزه شنواري دیوان، مخ ۴۹۱
۵۶: همدغه اثر ، مخ ۷۰
۵۷: همدغه اثر ، مخ ۳۷۵
۵۸: د حمزه شنواري کلیات،دریم جلد، مخ ۳۳